

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تاسو دومره ګیله من یمه چې حد نه لري!

M Khalid Takal

ګیله من وزیر

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

کتاب پېژندنه

دکتاب نوم : له تاسو دومره ګیله من یمه چې حد نه لري!
شاعر : ملي شهید حضرت نعیم غیرت ګیله من وزیر
راټولونه : اجمل اټک یوسفزی
د پښتی ډیزاین : ښاغلی صابر زیار
خپرندوي : خښي کلتوري ټولنه
خپرونو لړ : (۱۸)
کمپوز : سلیمان خان
خرڅ : ۵۰ افغانی
چاپ کال : ۱٤۰۳/۵/۲ ⇔ ۲۰۲۴/۷/۲۳
چاپ شمېر : زرګونه ټوکه

د چاپ حقوق د نومړي ټولنې سره خوندي دي
+93777111038

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مننه او کور ودانی

ددې ټولګې د راټولولو او جوړولو په چارو کې له ټولو هغو ملګرو مننه وی یم چې مشورې او داډ يې راکړی .په ځانګړې توګه له ګران زلمي سليمان جان نه مننه کوم چې د شهيد ګيله من سره په اړيکه کې و او ددې ټولګې يو شمېر شعرونه يې ورسپارلي وو.

دويم د هېواد له خوږ ژبې هنرمندې او په پښتو مينې مېرمنې اغلې هما افغانمينې نه هم د زړه له تله مننه کوم چې د کتاب مالي لګښت ته يې پخپله خوښه تېتر وواهه او لکه د غورځنګ د تکړه او ژبورې مبارزې خور اغلې پېغلې وړانګې لونی په شان يې دلته د قلم او ادب ذکر پياوړی کړ او دا ټولګه يې د چاپ په بڼه تر موږ راورسوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

. تړون

ددې ټولګې تړون او اهدا د شهید عثمان لالا ، شهید ارمان لوڼي ، شهید عارف وزیر او شهید ګیله من . د غیرتي او پښتنو میندو په نوم دی دا غیرتمندې میندې د ټول پښتون ولس میندې دي او تاریخ به یې په میړانو ویاړي

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

منظور او د پي ټي ايم ټولو سرتېرو ته ډالۍ
داسې څوک غواړو موږ

چې مو راټول په يو کور کړي داسې څوک غواړو موږ
چې مو زخمونه لږ ټکور کړي داسې څوک غواړو موږ

يو بې وطنه بې کفنه لا وارثه پښتون
که چېرې خلاص نور له پېغور کړي داسې څوک غواړو موږ

چې يو له غر بل له سنګر دربيم له ټانګه ګوزي کړي
چې مو راټول په يو شکور کړي داسې څوک غواړو موږ

ښوه د خير تيره چې کېږدي زموږ دواړو منځ کې
چې مې د ورور سره بيا ورور کړي داسې څوک غواړو موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مې ټوپک او قلم دواړه په قلم بدل کړي
چې نور له جنګه مو زړه تور کړي داسې څوک غواړو مور

چې دا د ونو سبلابونه بس دي ودروي
چې سپين د امن څادر خپور کړي داسې څوک غواړو مور

چې کرښې رنګې او ملي جذبې راوپاروي
چې ټول ولس په شرنګ او شور کړي داسې څوک غواړو مور

چې مو تر منځه دا د جبر دېوال ونړوي
چې مو بچي د يوې مور کړي داسې څوک غواړو مور

چې د پنجاب نه خپله خاوره د اټک وګټي
چې نور اوبه د ظالم زور کړي داسې څوک غواړو مور

اجمل اټک يوسفزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قام مین ، قام نه خفه ګیله من

د افغانانو او په ځانګړي توګه د پښتنو تاریخ له بدمرغه په سرو وینو لیکل شوی دی خو د تاریخ ټول جنګونه په پښتون قام تپل شوي دي یو جنګ هم داسې نشته چې پښتنو دې په چا لښکر کشي کړې وي او په بل یې یرغل او برید کړی وي . په داسې حال کې چې پښتون یو مېړنی قوم دی . توره او ټوپک یې ستاینه او زېور دی.

پښتون پښتون وهلی خو په بل یې برید او بلوڅه نه ده کړې . خو د تاریخ جبر په وینو کې لمبولي دي او د شهیدانو هدیرې ، تومونه او جنازې یې له شمېره وتې دي .د پښتون د تورې شرنګ د نړۍ والو په تاریخونو کې اوس هم شرنګیږي او د نړۍ امپراتورانو دې قام ته دوه لاسي سلامي او تسلیمي ورکړې ده . د نړۍ د هر مادي ستر طاقت ماته او زوال له همدې خړې پړې خاورې پیل شوی دی .لوی سکندر . مغل . چنګېز . وروسته انګرېز . روس . امریک او دوه څلوېښت متحدینو ملګرو هېوادونو یې دلته ګونډه ووهله او مات ګوډ په تېښته بریالي شول .دا ټول په مورنۍ پسې زمونږ خاورې ته راغلي دي او مورنۍ یې د سیاسي سیالیو او ګټو قرباني شوي یو .د هر یرغل پر وړاندې زمونږ په زرګونو او لکونو ککرۍ قرباني شوې دي کورونه مو وران شوي دي . بچي مو یتیمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي دي مېندې مو بورې شوي دي او خويندې مو کونډې او بې کسه شوي دي.
لنډه دا چې ددې پښتون وطن هر کاڼي او هره لوېشت خاوره په وينو لمبېدلې او د اوسني عصر په بارودو کې سوځېدلې ده.
يرغلګر راغلي زور يې وهلی چې مات شوي نو بس تللي خو د نړۍ ورو ستی ستر ښکېلاکي ځواک انګرېز چې همدې پښتون قام له برمه او د سلطنت له بام او تخته راګوزار کړ نو انګرېز د خپل شيطاني فطرت له مخې خپل سور او شين سترګی پوځ له پښتون وطن او سيمې نه مات ګوډ وويست خو په حقيقت کې يې خپل تور نسل په وراثت په سيمه کې پرېښود خو توپير يې دا و چې شين سترګي د کفر په نامه پښتنو غازيانو مات کړل خو انګرېز ورته محمد علي جناح جوړ کړ او د اسلام په پاک نوم او غرېيې يو ځل بيا خپله امپراتوري او باداري د سيمې د غلامانو په شکل کې ټينګه کړه او دا داسې مقدس نوم و چې پښتنو ورته سمدواره تورې په ځمکه کېښودلې .انګرېز نه يوازې دا چې دوه لوی ګاونډي هېوادونه سره ووېشل بلکې د خپلو دايمي ګټو او د وخت د قوي او رقيب شوروي پر وړاندې يې زموږ وطن او خاوره يو ځل بيا سنګر او دفتر کړ.
منظمو او غيرتي پښتنو د خپل بابا د عدم تشدد غرېبدرګه کړ او د تور انګرېز د مکر ښکار شول دا ځل سور انګرېز د تور غلام انګرېز پر اوږو د اسلام ټوپک کېښود او هر هغه کس يې په سر پرې وويشت چې د حق او خپلواکۍ پوښتنه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنه یې کوله چې تاریخي بېلګه یې د پاکستان تر زېږېدو لږ وروسته د بابړې قتل عام او د ټکر د ولس قتل عام دی .
وژلو او نیولو ته اسلامي مهر او ټاپه پیدا شوه او د اسلام په چوکاټ کې د حق غوښتونکو خپل د مکار تور او سور انګرېز له خوا پیل شول .زندانونه ډک شول .حق غوښتونکي غداران ونومول شول او د وحشت او بربریت په ښودلو او خپرولو د خلکو خولې بندې او وګنډل شوې ، ځینې بې شعوره کسان طامع شول او ځینې واخیستل شول .پښتون ولس تر دې دمه پوره ۷۷ کاله محکوم شو ، ووهل شو ، ذلیل شو ، په خپله خاوره بې اختیاره شو ، په خپلو وسایلو کې بې زورګاره شو په سیاسي او اداري واک او مسایلو کې هېر او بېخي بې برخې شو لنده دا چې د پاکستان په اسلامي جمهوریه نومي ملک خدا داد کې محکوم ، اسیر ، استعمار او استثمار شو.
قومي او ملي شخصیتونه یې ترور شول او ټول قام بې سره او بې مشره وساتل شو ، د پښتون په نوم سیاسي ګوندونو ته هم اختیارات ورنه کړل شول او هسې د پښتون ملت د تېروتنې او غلونې په خاطر په رسمي چوکاټونو کې داخل کړل شول ، څه واخیستل شول او څا د حالاتو سره سم خانونه جوړ کړل .د تاریخ په اوږدو کې د پښتنو په قتل عام او د پښتنو په تذلیل یو ګوند هم غږ پورته نه کړ او په ګوند کې که کوم د شعور خاوند او دردمند غږ پورته کړ نو سبا به ورک او ووژل شو.

CS CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د شاهي او جمهوري نظامونو په ضد د افغان حکومت مخالفین په لاهور او اسلام اباد کې وروزل شول او د افغانستان دیاره ورانکارۍ ته ولیږل شول.

په بر وطن کران افغانستان چې کله روسانو یرغل وکړ د پکستان غوا لنګه شوه د دنیا نه یې هر ډول مرستې راټولې کړې پنجاب یې کور په کور جوړ کړ خو پښتونخوا او بر وطن افغانستان یې لوټې لوټې کړل.

د امریکې په تریډ سنټر چې کله بریدونه وشول بیا د پنجاب غوا لنګه شوه او دا خل داسې لنګه شوه چې جنرال مشرف ورسره پښتونخوا هم لوټې لوټې او کنډواله کړه.

په باجوړ، سوات، وزیرستان او نورو سیمو کې یې د خپلو روزل شویو شخصي سپینې ملېشې په واسطه جنګونه پیل کړل په یوه لاس یې له نړۍ والو څخه د تروریزم په نوم مرستې او ډالر اخیستل او په بل لاس یې بېرته په سیمه کې ورانکارۍ او تروریستان روزل.

د سوات او وزیرستان مظلوم ولس یې پوره شل کاله د جنګ په لمبو کې وسوځاوه هره پښتنه مور یې بوره او هره پښتنه خور یې سر توره کړه. ماشومان او سپین ږیري یې ووژل او په هیڅ یې ترحم ونه کړ.

په زرګونو پښتانه یې په خپل وطن کې بې کوره او مهاجر کړل د پښتنو عزتونه یې لیلام کړل او نړۍ والو ته یې د امن

CS CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسنده پښتون غلط تصویر او تصور ورکړ چې ګوندې پښتون یعنې ترهګر او وژونکی.
د تور تاریخ دا تور دور هم پښتنو تیر کړ په دومره لوی قتل عام او ستري انساني غمیزې نه نړۍ اکشن واخیست او نه په پاکستان کې موجوده د پښتنو میراثي سیاسي ګوندونو او دا تاریخي ننګ او شرم یې خپل راتلونکي نسل ته پرېښود.
دا چې خدای تعالی عادل ذات دی او د خپل بنده اجر نه ضایع کوي نو د محکومو او مظلومو پښتنو د وحدت او راټولېدو په خاطر یې منظور احمد او د پښتون ژغورنې غورځنګ په طبیعي بڼه او شکل پخپله د همدغو پنجابیانو د مظالمو په نتیجه کې رامنځ ته کړ . پښتون هر څه لرل خو مشر او یووالی یې نه درلود او د سیاسي لیډرشیپ د نه شتون له امله دا غمیزه کابو اوه اویا کالو ته اوږده شوه اوس الحمدلله پښتانه راویښ او منظم شول یې تي ایم یو پلاټ فارم شو یو لښکر شو یو غږ شو او یو جرئت شو ولس ویښ شو او د وېرې مهرونه یې له سترګو او زړونو . نه لرې شول یو په بل باور پیدا شو او د پښتنو لاسونه د دښمن پر وړاندې یو موټی شول.
خو استعماري مکار نظام ډېر مکار دی ډېرې هڅې یې ددغه تحریک د بدنامولو او شیندلو دپاره وکړې خو شکر الحمدلله تردې دمه یې دسیسې یو په بل پسې ناکامې شولې ، د غورځنګ ډېر تکړه او ژبور کسان یې په ډېرې سپین سترګی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهیدان کړل په موجود نظام او اداره کې د شهیدانو قاتلان په سپینه ورخ ورک شول ، د شهید عثمان خان کاکړ لالا ، د شهید عارف وزیر ، د شهید پروفیسور محمد ابراهیم ارمان لوني . د شهید طاهر داوړ او د نورو شهیدانو قاتلان ورک شول ، د شهید نقیب وزیر ښکاره قاتل راو انور ونه نیول شو بلکې مکافات او سرکاري تحفظ هم ورکړل شو .د غورځنګ اکثره تکړه مشران ونیول شول او پرته له کوم جرم او ثبوت په میاشتو میاشتو او کلونو په زندانونو کې واچول شول .تر دې چې بالاخره د غورځنګ ویاند او تکړه شاعر حضرت نعیم غیرت چې په غورځنګ کې په ګیله منه وزیر مشهور و هم لومړی زنداني او بیا دا دی په ډېرې بې رحمۍ د سپین اسلام اباد په زړه کې په رڼا ورځ شهید کړای شو او قاتلانو ته سرکاري تحفظ ورکړل شو.

د ظلمونو دې لړۍ او دې وروستۍ پېښې یو ځل بیا ټول پښتانه د نړۍ په هر ګوټ کې ودردول خو دې لوی او نه هېرېدونکي درد پښتانه لاپسې د تور دښمن پر وړاندې متحد او پیاوړي کړل.

شهید ګیله من د نړۍ یو له هغو استثنایي کسانو څخه شو چې په لکونو خلکو یې غائبانه جنازې د نړۍ په هر ملک او هر ښار کې وکړې په هر هېواد او هر ښار کې ستر ستر لاریونونه وشول او مکار دښمن ته یې د خطر وروستۍ زنګ وشرنګاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شهید ګیله من وینا او شاعري د پښتون ولس د زړونو رسا غږ دی شهید ګیله من لکه شهید ملنګجان ددې ستر ولس ملي شاعر وپېژندل شو او د خولې هر بیت یې لکه زر ارزښتمند او ملي امانت شو.
موږ په مرګ باور او ایمان لرو دا منو چې شهید ګیله من به نور په فزیکي او حضوري توګه زموږ سره نه وي خو په معنوي توګه هغه ژوندی دی د هغه کلام او شعارونه به د خپلواکۍ تر وروستۍ شېبې انګازې کوي موږ به راویښوي ، موږ به ننګوي او موږ ته به د ننګ او غیرت جذبې راکوي لکه څنګه چې شهیدان مړه نه وي ژوندي وي دغه شان شاعران او د فکر خاوندان هم نه مري تر شا لښکر پرېږدي او لښکر د سنګر د تاوده ساتلو ذمه واري لري ، دا د حق او باطل تر منځ سپېڅلې جګړه ده دا د ظلم او ناروا پر وړاندې پاکه ملي مبارزه ده او دا د یوه تاریخي ستر قام د ارمانونو او ارزښتونو یوه نه ستړې کېدونکې قافله ده ، زموږ تور مخی دښمن دې په دې پو شي چې دغه کاروان او قافله اوس روانه ده او منزل ته به خامخا ان شآءالله رسېږي راستنېږي نه ، نو په مرګونو او وحشتونو دا سرتېري نه وېرېږي او نه به د مشرانو او کشرانو په دغه ډول ظالمانه وژنو خبره ختمه او خلاصه شي .کابو د اوه اویاو کلونو حساب په منځ کې پروت دی د مالي تاوان جبیره خو به وشي څکه چې پښتانه ماده پرست نه دي ، خو د

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عزت او ناموسي د تاوانونو ټوله ذمه واري د رياست په غاړه پرته ده او دا حسابونه به تصفيه کول غواړي.
درنو لوستونکو زه نه غواړم چې دلته خبرې نورې اوږدې کړم موږ ټول د دغه سپېڅلي ملي لښکر او غورځنګ غړي يوو هم د پښتونولۍ هم د انساني شرافت او هم د اسلامي ورورولۍ او کرامت له مخې مسؤليت لرو چې يو د بل په درد او غم کې شريک شو.
شهيد ګيله من زموږ ملي شاعر او په ملي او اسلامي ارزښتونو ملي شهيد دی .له همدې امله لازم او اړين ګڼو چې د شهيد ګيله من دغه ملغلرې چې د حق د ګټلو په خاطر يې پرې خپل سر بايلود راټولې . محفوظې او راتلونکې کول يعنې نسل ته وسپارو.
دا يادونه ضرور ګڼم چې ووايم ددې ټولګې ډېرې شعرونه پخپله شهيد ګيله من ، زلمي سليمان جان سا پي ته راليږلي وو چې ورته يې ډيزاين او چاپ ته تيار کړي . د ګيله من په وينا چې ويل يې اکثره يې نوي شعرونه دي او د کتاب د پاره يې پخپله نوم هم د خپل يوه شعر يو بيت ټاکلی و چې داسې و "زه په سازونو او سندرو باندې مړ ژوندی يم " خو ترڅو چې سلميان جان دا شعرونه سره جوړول تر جوړېدو دمخه ګيله من شهيد کړای شو او دا شعرونه يې موږ سره امانت پاتې شول نو ما ګران سليمان جان ته وويل چې بس ته خپل کار ته ادامه ورکړه زما سره يې هم ځينې شعرونه شته هغه به هم ورسره يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خای کړو او د ژمنې سره سم به یې چاپ کړو ، د سلیمان په وینا چې ویل یې د ګیله من هیله وه چې د غورځنګ مشر ښاغلی منظور احمد پشتین هم باید پرې یو څو کرښې ولیکي او ګیله من ویل چې د ښاغلي منظور سره مې په دې هکله خبرې شوي دي او لیکنه به ترې راواخلم.

ما د ګیله من د هیلې د پوره کولو په خاطر هڅه وکړه چې د ښاغلي منظور لیکل هم پرې راواخلم ، په دې هکله مې د ښاغلي منظور سره اړیکه هم وشوه د لیکلو ډاډ یې را کړ خو له یوې خوا د ښاغلي منظور د بوختیاو له امله او له بلې خوا د خلکو د کتاب غوښتلو تنده چې موږ یې د چاپ اعلان کړی و ، دومره ډېره وه چې موږ ته یې دا مهلت رانه کړ چې د ښاغلي منظور لیکلو ته لږ نور انتظار هم وکړو ، نو ان شآءالله د کتاب په دویم او دریم وار چاپ کې به خامخا د شهید ګیله من دا هیله هم پوره کړو..

د شعرونو د ترتیب او سکنړو په وخت کې یوه ستونزه دا وه چې د شهید ګیله من ځینې شعرونه په وزیرواله او کلیواله لهجه وو چې په عام ډول پرې د نورو سیمو د پښتنو پوهېدل ګران وو نو ددې په خاطر چې د شعر اصلیت ته تاوان او تغییر پیښ نه شي موږ له څو مېتودونو څخه کار واخیست او د اصلي شعر تر څنګ مو د هغه لږ معیاري بڼه او شکل هم چاپ کړ د فیسبوک پر پاڼه مو د ډېرو ملګرو نظریات هم پرې راټول کړل او دا ستونزه مو په امانتدارۍ حل کړه .

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعرونو ته اکثره سرليکونه هم ما د خپل کار د اسانتيا په پار وټاکل ، موږ هڅه کوو چې د شهيد ګيله من نور خواره واره شعرونه هم له خپرونو راټول کړو او وخت په وخت يې چاپ کړو ترڅو ښه خوندي شي او د ورکېدو مخه يې ډپ شي.

ددې ترڅنګ نورو ملګرو هم پټېيلې ده چې د شهيد ګيله من په هکله شوې منثورې او نظمومې ليکنې راټولې او چاپ کړي چې دا هم يو غوره او خورا ښه کار دی .کورنۍ او د غورځنګ مشران غرې هم غواړي چې د شهيد د زندان خاطرې د " يوويشتمې پېړۍ دوزخ " هم چاپ کړي او همدارنګه لازمه ده چې د شهيد ګيله من پخوانی چاپ شوی شعري غور چاڼ " اويا کاله برباد شوم " هم يو ځل بيا په ډېر تيراژ چاپ شي.

بيا هم وايوو که ارتيا پيښه شي ، خلک او ملګري د بيا چاپ غوښتنه وکړی بيا هم موږ تيار يوو چې د خپل ملي مکلفيت له مخې نوموړی کتاب چاپ کړو.

په ملي او پښتنه مينه او درنښت

اجمل اټک يوسفزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوبې

ای پښتونه په ایمان دې لوبې وشوې
په جومات او په قران دې لوبې وشوې

د غفلت د خوب نه کله را پاڅېږې
د ملالې په پېزوان دې لوبې وشوې

یې مُسلِم د اُمتي حق خو ادا کړه
په حدیثو د جانان دې لوبې وشوې

ای د وخت مجنونه هلسه راپېدار شه
د لیلا په تور زلفان دې لوبې وشوې

سر تیټي دې د تاریخ پاڼو کې نشته
په ناموس د باباجان دې لوبې وشوې

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالي پاڅه په چمن دې زاغان ګډ دي
په بلبل او په ګلان دې لوبې وشوې

په تاریخ کې دې نام څه و اوس دې څه دی
د مېړانې په نښان دې لوبې وشوې

شین ګلخان شوې په یو ورور دې تنګ ونکړو
په خیبر او په افغان دې لوبې وشوې

د پښتون خبره کړښه وه د کاڼي
دا نن ولې په زبان دې لوبې وشوې

توپک پرېږده په قلم پورې دې وژني
په شاګرد په اُستاذان دې لوبې وشوې

ګیلامنه تا کې ننګ کله رادرومي
چې په ګران وزیرستان دې لوبې وشوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکبیر

په حقه هیڅ ویره له دار او له زنځیر مه کوه
مړ شه قیدي شه غلامي دې په ضمیر مه کوه

ما لا د خپلو کونډو بورو تپوس نه دی کړی
ځه مخکې تېر شه ما ته ذکر د کشمیر مه کوه

که چېرته مړ شوم په بې ننګه او بې پته مرګي
مورې په مخ مې لاړې توئ کړه په ما ویر مه کوه

پردی جامه کې اکثر پټ وي مزدوران د پردو
افغانه ړوند باور په خان مُلا او پیر مه کوه

دا ورور وژنه ده جهاد نه دی امیر صاحبه
زما په مرګ الله اکبر نارې تکبیر مه کوه

مرګ خو حتمي دی خامخه مرې خو په نره مړ شه
اې ګیلامنه یاره تېښته له تقدیر مه کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شرمېږي

د خوینــدو او د مینــدو د ســلګو نــه نــه شــرمېږي
چــې بلــې دې پــر کــور دي د لمبــو نــه نــه شــرمېږي

ســتا هــره ورځ دوه درې ماشــومان الــوځي پــه بــم
نــو تــهٔ د هغــو پــرې پــرې پښــو لاســو نــه نهٔ شــرمېږي

ته نرې چپه خوله ناست یې ستا حق ورانکه ثناء غواړي
ربښــتیا وایــه د دغــو جینکــو نــه نــه شــرمېږي

عبــث دې اوږده کــړي دي بــس ځــان دې پــرې پیــر دی
د خپلــو ځنــو ږیــرې او بریتــو نــه نــه شــرمېږي

راوړي یــې تصــویرونه ماشــومان هــرې جلســې تــه
د هغــو ورکــو ورونــو پښــتنو نــه نــه شــرمېږي

هــارون بلــور طــاهر داوړ مشــال دې څنګــه هېــر کــړل
بــې ننګــه د نقیــب د پرهــرو نــه نــه شــرمېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهــي دې ماشــومان پکــې د ژمــي بارانونــه
ای تــه د بکاخېــل کیمــپ د خیمــو نــه نــه شــرمېږې

چــې لانــدې تــر دېــوال یــې شــول قرانونــه کتابونــه
د ورانــو مدرســو او جمــاتونو نــه شــرمېږې

پــه تـا کې نــه غیــرت شته نــه پښتو پــه نوم ګلخان یې
چــې تــه د ګــیلامن د پیغــورو نــه نــه شــرمېږې

یادونه شهید ګیله من دلته د قام دزلمیو د تنګوني په پار د غورخنګ دوه زړورې او ژبورې خویندې په ورانګه لوني او ثناءاعجاز هم یاد کړې دي دغه دوه وېاړلې خویندې د غورخنګ د لومړي ورځ سر لښکرې وې او په ډیره میړانه یې په هر ډغونډه کې برخه اخیستې

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالګې

له پردو خنکه ګیلې وکړو په ظلمونو باندې
چې خپل مو مالګې دوړوي په پرهرونو باندې

د وطن پیغلې مو اخر دې حد ته ورسیدې
د بې وسعې شعار لیکي په مړوندونو باندې

د نړۍ خلک به په کومه سترګه ګوري موږ ته
چې دی هیواد کې مو بندیز په مکتبونو باندې

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطنه درې رنګه بیرغ دې څکه نه شي زغمی
خپل دې مئین دي په پردیو بیرغونو باندې

که راویښ نه شوې نو دا واوره را روان نسل به
قسم په خدای لاړې در تو کړي په قبرونو باندې

یه خدایه مور ته له وطن هغوی دوزخ جوړ کړی
څوک چې مئین دي ستا په حورو جنتونو باندې

چې ددې عدم تشدد به هم څه حد وي کنه ؟
تور سره او سپین مو شول راستې په مرګونو باندې

ای ګیلامنه لر و بر افغانان نه یو کیږي
که ورته مړ شې په نارو او په شعرونو باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حل

نه مونږ په ارام کینو نه ته د مسلې حل غواړې
شاړې مورچې ته لکه چې بیا اباد ېدل غواړې

نیمه قیصه خورې نیمه راباسې په ممبر ناست یې
مثلاً مثلاً وایې صفا وایه څه ویل غواړې

کلي کې د میندو بچې ورک پسې رندې شولې
جار محبوبې ته ښنکه رانجه غواړې کاجل غواړې

زړه کې دې پاک سر زمین په خوله د لر و بر ناړې
جار رهبره ته به چې منه او که کابل غواړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په انسان دوسته هیوادو کې لاریون ځای نیسي
اخ پښتونه ته په احتجاج حق له ځنګل غواړې

زه د جنازو او د قبرونو نه اوزګار نه یم
ای لیونۍ ته له ما په خپل حُسن غزل غواړې

ته د غلامۍ په خوب ویده قام ته ناره وهې
یاره ګیلامنه په دوی څنګه تل وهل غواړې

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ دي

ځار دې شم له بریتو څه ګیډي ګیډي ولاړ دي
کور په دروازه کې دې پردي سري ولاړ دي

نن ورځ ده د اختر زمونږ د کلي هدیره کې
د هر مزار وه سر ته یتیمان بچي ولاړ دي

دا هغه د غیرت ډک پښتانه دي دغه نن چې
خیرات ته په قطار کې ډېر په ورین تندي ولاړ دي

زمونږ د وطن سره او سپین لاهور پینډۍ ته لاړل
په دښتو کې یې صرف د کیکر ازغي ولاړ دي

دا حال دی د وطن د مشرانو ګیلامنه
چې عام د کیمپ سپاهي ته په جناب و جي ولاړ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سازونه

د هــر کــاروان اول منــزل معلومــول پکــار وي
بیا پسې نیت تړل او سم په کلکه تلل پکار وي

راشه یـوه دوې د خیـر خبـرې پښـتنو تـه وکـړه
که په کور ناستې خور او مور ته دې کنځل پکار وي

زه پـه سـازونو او سـندرو بانـدې مـړ ژونـدی یـم
خو د جومات او هُجرې فرق په کې کول پکار وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څوک افضل جهاد کوي نو دا قوي حدیث دی
چې د جابر حکمران مخ ته حق ویل پکار وي

ملګرتیا مه کړه که کوې یې د پښتو متل دی
چې درګه نیسې نو د درګې ټینګ نیول پکار وي

موږ ته د روس او امریکې له واده مخکې مخکې
د دې ډیورنډ کرښې له منځه تلول پکار وي

دښمن که هر څو زورور شي بیا یې هم تر مخه
سر ټیټول نه دي پکار سر ماتېدل پکار وي

چې ددې موږ خاورې په ننګ ځوانان راوپاراوي
ای ګیلامنه نن سبا داسې غزل پکار وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غداریم

که حق خبره غداري وي بنه بنکاره غدار یم
پرون غدار وم نن غدار یم سبا بیا غداری یم
که چېرته سپینه او صفا خبر کول جرم وي
که د مظلوم او یتیم اوبنکې پاکول جرم وي

که چېرته خپل مظلوم ولس ته حق غوښتل جرم وي
که د تور سرو د حیا ناموس ساتل جرم وي
نو زه مجرم یم ما بندي کړئ ما په دار کړئ راشئ
د خپل وطن قام په خبره مې سنګسار کړئ راشئ

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه مې د خپلو شهیدانو پور له چا وغوارم
د کوټې شار د وکیلانو پور د چا وغوارم
د ارمي سکول د ستوډینټانو پور له چا وغوارم
د باجوړ د شهیدانو پور له چا وغوارم

زه د کنډر وزیرستان تپوس له چانه وکړم
زه د عثمان عارف ارمان تپوس له چانه وکړم
زما وطن کې په زرهاوو کونډې بورې ګرځي
بې لوېتې پښې ابلی پښې ګرځي سرتوره ګرځي

ستر یې مات دی در په در ګرځي مجبوره ګرځي
په وچو شونډو پښتنې د جنت حورې ګرځي
دا نه په مونږه امریکې نه هندوستان کړي دي
راسره هرڅه دې دوه مخې پاکستان کړي دي

بدل ترې اخلم خامخا ترې نن په شور اخلم
که په شور ونه شوه سبا یې بیا په زور اخلم
زه مې د خپلو وینو یو په سله پور اخلم

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـم یـې نصـرت ورسـره تریـور اخلـم

هو زه غدار یم ښه په جار او برملا غدار یم
که حق خبره غداری وی ښه ښکاره غدار یم
پرون غدار وم نن غدار یم سبا بیا غداری یم
عافیه صدیقي په ډالرو باندې چا خرڅه کړه

په انګریزانو چا ناموس او چا حیا خرڅه کړه
په لال مسجد مسجد افسر ظلمونه چا وکړل
ای پاکستانیانو اسرایل او که اندیا وکړل
پردي جنګونه په ډالرو باندې چا وکړل

غټ غټ بمونه په ډالرو باندې چا وکړل
وزیرستان ته دا تاجک او ازبک چا راوړل
په جیکپستونو او جیلکفوټ او پاټک چا راوستل
پرویز مشره لا اساما مسان چیرته دی

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوانــور غونــدي د وخــت فرعونــان چيرتــه دي
ابــى نتــدن بانــدي کيکونــه بســکتې جا وخوږ
وار پــرې چــا کــړي و بيرتــه راکــتې جا وخوړ
ووايــئ زه تــر مشــرف راحيــل بــاجوا غــداريــم

که حق خبره غداري وي بنه بنکاره غدار يم
پرون غدار وم نن غدار يم سبا بيا غداری يم
موږ ته تکړه يې له بنګاله خپل پطلون راوړه
درنــه بيــل شــوی اپ پــرون کشــمير راوړه

پـه لـر او بـر افغانــانو ســترګې مــه اوباســه
پـه دې مظلومـه انســانانو ســترګې مــه اوباســه
هو حوصلې مه بايلئ ای زما د غورځنګ ملګرو
مره روان شئ کلک يو ځای ځنګ په ځنګ ملګرو

پاځئ همدا وخت دی د پريکړې او بدلون ملګرو
پــه وطنــی شــمعه شــيدا او لکــه پتنــګ ملګــرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ان شاءالله بیا به په اتڼ خپله جنډه ودرو
د خپلواکۍ بیرغ به پاس په ملکره ودرو

دا مې نعره ده ګیلامنه خامخا غدار یم
که حق خبره غداري وي ښه ښکاره غدار یم
پرون غدار وم نن غدار یم سبا بیا غداری یم

یادونه : په پورتني نظم کې د ریاست د کړو تاریخي جنایاتو پوره تاریخ او داستان پورت دی . د بېلګې په توګه په کویټه کې د پښتنو وکیلانو قتل عام چې ریاست یې ذمه وار و . د پېښور په ښار صدر کې د ارمي سکول د لسګونو ماشومانو وژل چې وروسته ثابته شوه چې ریاست پخپله پرې حمله کړې وه او دا حملې یې پخپله خکه کولې چې یو خوا یې پښتانه وژل او بل خوا یې د نړۍ والو پاملرنه او خواخوږي جلبوله چې ګوندې دوی پخپله هم د ترهګرو د بریدونو لاندې دي او دا داسې وخت وو چې په افغانستان کې د ناټو پوځونه وو او په دوی دا تور و چې دوی د افغان حکومت وسلوال مخالفین روزي او مرسته یې کوي نو دوی خکه دا کارونه کول چې ځان له دې توره خلاص کړي او هم به پرویز مشرف دنیا ته ویل چې دا دی وګورئ موږ هم د تروریستانو د بریدونو لاندې یوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله تاریخي یادونه دلته په اسلام اباد کې په لال مسجد باندې د پاکستان د پوځونو د برید داستان دی چې د مشرف په امر پاکستاني پوځ د اسلام اباد د ښار په منځ کې په لال جامع مسجد او مدرسه برید وکړ او د لسګونو ملایانو طلابو تر څنګ یې هم مسجد شهید کړ او هم یې په سلګونو د قرآنکریم نسخې د جنګ په لمبو کې وسېځلې.

بله لویه تاریخي او د پاکستان د شرم دایمي او د بې ایمانۍ خبره او داستان د عافیه صدیقي دی. عافیه صدیقي یوه پاکستانۍ ساینس پوهه مېرمن وه چې په کال دوه زره اته کې په امریکایي قوتونو د ډزو په تور ونیول شوه او د پاکستان دولت خپل دغه ناموس یعنې طبعه د امریکا په غوښتنه امریکایي عدالت او امریکا ته وسپارله چې تر ننه په امریکا کې په امریکایي زندان کې پرته ده.

یادونه: په پورتني شعر کې شهید ګیله من د پښتون قام د قتل عام لوی لوی قاتلان یاد کړي دي. لکه په سند کې د پولیسو په وردۍ کې د سوونو پښتنو قاتل راو انور چې نقیب وزیر یې هم شهید کړی دی. بل د پاکستان د پوځ دري مشران چې د پښتنو د قتل عام مسؤلین دي جنرال مشرف. راحیل شریف او قمر جاوید باجوا او همدارنګه د ابي نندن هندي پیلوټ یادونه هم کوي چې الوتکه یې پاکستان نسکوره کړه ابي نندن یې ژوندی ونیوه مګر چا له وېرې یوه څپېړه هم ورنه کړه او د نازولي مېلمه په شان یې وناژوه.

CS CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستانه

ای د ژوندیو قبرســــتانه رب دې ونــــروه
د میرانشــــاه فــوځي زندانــــه رب دې ونــروه

د پښتنو نه دې عزت ابرو او ژوند اخیستی
ای منافقــــه پاکســــتانه رب دې ونــــروه

یادونه : شهید ګیله من خو میاشتې د میرانشاه په فوځي زندان کې زنداني و په زندان کې چې کوم ظلمونه او وحشت ورسره شوی وو هغه یې په یوه نظم کې تول یاد کړي دي ، نوموړی نظم په دې ټولګه کې شته نور جریان به هلته ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیلا ګیله

پرون لیلا داسې په چل ول کښې ګیله کؤله
ویل یې خفه نه شې څه داسې یې قیصه کؤله
چې ته شاعر یې او د مینې قیصې نه پیژنې
د محبت شنې سرې رنګینې قیصې نه پیژنې

چېرې یوه ورځ دا زما شنکي خالونه یاد کړه
یامې چشمان یا مې د سرو شونډو سرونه یاد کړه
یا مې د تورو زلفو ول په ول تارونه یاد کړه
یا خو مې چېرته د بنګړو ډک مړوندونه یاد کړه

چېرته یو دوه قیصې زما په تور وربل ولیکه
یو دوه زما په دې نرۍ غاړه غزل ولیکه
چې زه ډاډه شم چې په ما پورې سندرې لیکې
زما د سپینې خولې ورې ورې خبرې لیکې

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ګله وستايې زما د مخ سرخي لاليه
بيا دې منمه هر يو شعر او شاعري لاليه
ما هم په وچو وچو شونډو ورته مړه وخندل
زړه خو مې نه کېده په زور مې په ډک زړه وخندل

ما ورته وويل ليونۍ دا ستا ګيله په ځای ده
زه يې منمه دا ستا هره يوه قيصه په ځای ده
دا هم منم چې دا ستا حسن د ستايلو وړ دی
هر يو انداز دې په غزل د يادولو وړ دی

خو زه څه وکړمه پښتون يمه حيا رادرومي
قسم په خدای که مې په خوله د عشق تپه رادرومي
خنکه يې وليکم ضمير اجازت نه راکوي
ما ته د وران وطن تصوير اجازت نه راکوي

چې شنه خالونه ليکم شنه لوګي بارود رايادشي
هغه د کلي په جومات د بمبار دود رايادشي
چې سره لبان ليکم نو سرې ويني مې زړه ته راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زلمي ورور تودې تودې وينې مې زړه ته راشي

هغه د پلار په مخ پرتې وينې مې زړه ته راشي
هغه د مور په سر چې تلې وينې مې زړه ته راشي
نه نه نو زه به څنګه ستا په مخ سرخي يادوم
په مخ پرتې خاورې د خوار يتيم بچي يادوم

اوس زه دا ستا د شنو بنګړو ډک مړوندونه ياد کړم
که د ځوانانو په لاسو کې زنځيرونه ياد کړم
اوس راته وايه که دا ستا نخرې نازونه ياد کړم
که هغه د کونډو بورو ميندو فريادونه ياد کړم

اوس زه دا ستا د تورو زلفو تور تارونه ياد کړم
که د افغان ملت نه ډک تور زندانونه ياد کړم
رنګه ځواني چې يادوم بيا دا خيالونه راشي
دستي مې زړه ته ړنګ کنډر کورونه راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيال ته مې هغه لوټې لوټې بازارونه راشي
اف بيا په خيال کې د خپل کور رنګ دېوالونه راشي
زمونږ په لر او بر افغان قيامتونه جوړ دي
په هر يو کلي او هر کور کې ماتمونه جوړ دي

مونږ خو په يوه ورځ کې له سلو زيات قبرونه جوړ دي
د جنازو نه مو سم لوی لوی قطارونه جوړ دي
د کلي پېغلې د بېلتون په رنځ رنځورې ژاړې
دلته په هر يو کور کښې درې درې کونډې بورې ژاړي

ستر يې مات دی په يو بل کور کې مزدورې ژاړي
تکري يې پاتې دي په منډو ځي سرتورې ژاړې
بچيان مو ګرځي په کوڅو کې خيراتونه غواړي
يوه ډوډۍ پسې د ښار واړه کورونه غواړي

اوس دا هر څه په اوبو يوسم ستا وربل ياد کړم
د يتيمانو ژړا پرېږدم ستا خندل ياد کړم
اوس راته وښايه چې ستا ننتکی چارګل ياد کړم

(c) ketab....com: The Digital Library

کـه بـل اورونـه پېښـور او پـه کابـل یـاد کـړم

ښنګ د ځوانانو په لاشونو باندې پښې واړوم
ښنګ په دې سوو اندامونو باندې پښې واړوم
مـا تـه د خپلـو شـهیدانو وینـې زور راکـوي
د خرکمر شـهیدان پـل پـه پـل پیغـور راکـوي

چـې د شـهید ارمـان د قبـر تصـویرونه وینـم
چې د مورکۍ یې په دعـا اوچت لاسونه وینم
نو په دې خپلې بې وسۍ په چغو چغو ژاړم
د پښتون قام په بربادۍ په چغو چغو ژاړم

لا خـو مـې ارتـې تنـۍ واړه دښـمنان ګرځـي
زه ورتـه ګـورم د نقیـب تـور قـاتلان ګرځـي
مـا د طـاهر داوړ د سـوي بـدن پـور وانخسـت
ما لا ترنن بدل د ګران هـارون بیلـور وانخسـت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما لا د خپل قام تنکيالي ځوانان ګټلي نه دي
ما د عارف غونډې تنکي ځوانان ګټلي نه دي
ليلا ما وبخښه خالونه وربل څنګه ياد کړم
ستا نرۍ غاړه ستا ورشنډې چارګل څنګه ياد کړم

ترڅو چې وانخلم د دغه شهيدانو بدل
د کونډو بورو ځوروېدلو يتيمانو بدل
ترڅو چې ونه کړم تپوس د نړېدلي وطن
دا د بارودو په اور وريت او سوځېدلي وطن

زه مې چې ببرته خپل غيرت او ايمان ونه کتم
لکه پسونه حلال شوي مشران ونه کتم
زما نه مه کوه ليلا د شنو خالونو طمعه

يادونه :په نوموړي نظم کې د رياست له خوا
تول ظلمونه په پښتون ولس ياد شوي دي . د
پښتون ژغورنې د غورځنګ هغه نوميالي هم ياد شوي چې تر
شهيد ګيله من وار دمخه د پنجاب رياست په ورته بنه شهيدان
کړي دي لکه شهيد پروفيسور ابراهيم ارمان لونی . شهيد
سناتور عثمان خان کاکړ او شهيد عارف وزير .چې دغه دربواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ورته شکل شهیدان شوي دي او ګیله من هم ریاست په همدې بڼه شهید کړ.

په پورته نظم کې د تاریخ بل اتل طاهر داوړ هم یاد شوی دی. طاهر داوړ د پنجابي ریاست کارمند و او پولیس او د لوی منصب خاوند و . کله چې د نقیب وزیر تر شهادت وروسته د پښتون ژغورنې غورځنګ رامنځ ته شو او د حق غوښتلو لاریونونه پیل شول نو طاهر داوړ هم څق ته غاړه کېښوده او د خپل مظلوم قام په تنګه ودرېده خو د پرژز ریاست ونیوه او په ډېرې بې رحمۍ سره یې شهید کړ او جسد یې ورته تر تورخم پورې غاړې غورځولې و چې ګوندې افغان حکومت وژلی دی.

ریاست د طاهر داوړ سره دا بې شرمي او بې رحمي خکه وکړه چې نورو کارمندانو ووېروي او غلي یې کړي.

په پورته نظم کې د خړ کمر یادونه هم شوې او په خړ کمر کې د ریاست پوځ په بې وزله ولس یو بل تاریخي ناتار کړی چې د تاریخ په پاڼو کې دغه لوی وحشت ثبت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لر و بر افغان ستر افتخار علی وزیر
درځـار علـي وزیره

وهې د خپلواکۍ ناري په جار علي وزیره
درځـار علـی وزیره

ته کله کله دغه تپه ووایې چې موري
لنډۍ توپک مې راکه

راغلي دي وطن ته بلاګانې توري توري
لنډۍ توپک مې راکه

پنجاب لري له دې قیصو نه ډار علي وزیره
درځـار علـی وزیره

یادونه : دا شعر شهید ګیله من هغه وخت په شور او زوک په غونډه کې ویلو کله چې علي وزیر د پنجاب له تور زندان نه را ایله شوی و دا د هر کلي او استقباله شعر و چې په زرګونو ګډونوالو به په لوړ غږ بدرګه کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حد نه لري

ستا په پیلتون دومره غمجن یمه چې حد نه لري
په ماشوم زړه داسې خوږمن یمه چې حد نه لري

کله مهاجر شمه او کله ترهګر یا غدار
داسې ذلیل په خپل وطن یمه چې حد نه لري

که یې په مینه کې په دار هم شم پروا نه لري
په پښتون قوم داسې مین یمه چې حد نه لري

د پښتنو په قتل عام خاموش ملک او ملا
ستاسو نه دومره ګیله من یمه چې حد نه لري

د باچا خان امر ماتیږي کنه خدای ګواه دی
نور دومره تنګ له دې دښمن یمه چې حد نه لري

د پښتنو حیا لوټیږي او زه چپ خوله ناست یم
زه ګیله من دومره ډارن یمه چې حد نه لري

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغلان آفغانستان

په وینو سوز پرهر پرهر دې کړمه
د مور په غیږ کې ترهګر دې کړمه

چې ته عسکر شوې نو طالب شومه زه
چې ته طالب شوې نو عسکر دې کړمه

زه دې په هر رنګ کې وژلی یمه
کافر د پاسه په ممبر دې کړمه

افغان بچی یم دربه در دې کړمه
خرڅ په کالداروپه ډالر دې کړمه

په ګیلامن هیڅوک زړه نه خوږه وي
قتل په داسې چل هُنر دې کړمه

یادونه : د بغلان افغانستان عنوان پخپله شهید ګیله من دې شعر ته ورکړی دی ، د همدې کال په ترڅ کې په بغلان کې سېلابونه، راغلل چې په سوونو کسان پکې شهیدان شول ، نه پوهېږم چې دا سرلیک به د همدې پېښې سره تړاو لري او که کومه بله خونړۍ پېښه څکه چې نوموړي شعر کې د سېلاب ذکر نشته بنايي په بغلان ولایت کې د کومې بلې خونړۍ پېښې په اغیز کې لیکل شوی وي.
اټک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوی غزل

مور وطن سخت دی ګیله من له شازلمیو څخه
پتمنه غیرږه یې ده ډکه له پردیو څخه

خاوند یې مړ کړ نامعلومو پرون نن اختر دی
کونډې جلکۍ لیچې خالي کړې له بنګړیو څخه

د مُغل خیلو په دربار کې سلامي ولاړ دي
خوشحال ختکه ته خبر یې د لمسیو څخه

د وطن پیغلې د وطن په تنګ راووتلې
لکه چې تمې یې شوې لنډې د سړیو څخه

جنګه پیغلوتې دې په سرو لاسونو کونډې کړلې
هُجرې د کلي دې خالي کړې له ژنکیو څخه

ای ګیلامنه نور دې مړه قام ته ناري مه وهه
ګیله پکار ده خو پکار ده له ژوندیو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېغور

بیا دې په سر د فلسطین کشمیر پېغور واخله
پښتونه ته اول د خپلو وینو پور واخله

زه به دا ومنم چې تا روس امریکه مات کړي
ته مړه نر شه یو ځل غچ خو د لاهور واخله

په زنده باد و مرده باد که چېرته کار وه نه شو
له سره تېر شه خپلواکي او حق په زور واخله

رزمګ

غېږ د خپلواکۍ دې د یاغي باغي رزمکه
زړه د دوښمن ریږي بې له توري او توپکه

نور باید دا خپل محکوم وطن له پردو وګټو
ځئ چې یو ځای پاڅو له کابله تر اټکه

ښکه مو خوښېږي دا بل مخ پسې را واړه وو
دا د لنګ زامن نه سړي کیږي بې .کوټکه

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنګ

عجیبه وخت دی لنګ زمري د دستارونو وهي
تور پنجابیان پښتنې میندې په مخونو وهي

اې ګیلامنه ستا د خاورې دا ظلمي ځوانان به
اخر په کومو سترګو ګوتې په بریتونو وهي

کشرى

زما په قتل که دا نوره نړۍ چپ ده خیر دی
خو مسلمانه زه خو ستا د کلیمې وروریم

زما پر لاش به دومره ویر وي چې توبې به باسې
ځکه چې زه د شپږو خویندو کشرى وروریم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولي

ولې د هر شر ذیمه وار یادیږم
کله مُسلم کله کُفار یادیږم

خدایه چې ستا به فیصله څنګه وي
یو ځای شهید بل ځای مُردار یادیږم

لر او که بر ته سپیناوی ورکړمه
هلته جاسوس دلته غدار یادیږم

نن مې هم په شاباسي غولوي
سهار پاګل ماښام هوښیار یادیږم

که ګیلامان هر څو ځان سپین مُلا کړم
بیا هم په هر ځای ګنهکار یادیږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاره

شم درنه ځار په څو څو واره یاره
زما یاغي باغي غداره یاره

د کرد افغان ملت د سترګو توره
د هر مظلوم د زړه قراره یاره

په څه خومه شي زرکلن دي غوارم
د دي برباد وطن لپاره یاره

زه ګیلامن دي بې له تا نه شمه
زمونږ سالاره او غمخواره یاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلا

کومه بلا چې مونږ په ټول جهان کې نه غوښتله
هغه بلا وزیرستان ته څنګه ورسیده

په کومه ژبه دې فتوه راکړه کافر دې کړمه
ستا اندازه زما ایمان ته څنګه ورسیده

خلوریزه

مونږ خو په مینه ورورولۍ په انسانیت میئن یوو
کوو په نوم د افغان ناز پهٔ افغانیت مائین یوو

ای ګیلامنه نه یریږو د تهمت له تاپو
هم په اسلام هم په پښتو هم په غیرت میئن یوو

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګري دې یوو

چې چا ته تیت نه شې سالاره ملګري دې یوو
د ژوندانه په هره لاره ملګري دې یوو

د لر و بر افغان ولس یې یو نوی امید
د قام د ښه ژوندون د پاره ملګري دې یوو

که ډیرې سختې تکلیفونه راځي راځي دې
موږ له زندان واخله تر داره ملګري دې یوو

زمونږ وعده وه وعده ده وعده به مو وي
تر خپلې خاورې خپل اختیاره ملګري دې یوو

د جبرائیل په وزر پټ شې په څه خو مه شې
د ګیلامن د زړه قراره ملګري دې یوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته څه وایې

مره نور غږ د ازادۍ ښه دې که ته څه وایې ؟
له دې غلام ژوند خو مرګی ښه دی که ته څه وایې؟

چې تیتموم یې لګوم یې د بادار په پښو کې
نو له هغې مې مات تندی ښه دی که ته څه وایې ؟

دا ازغن تار له منځه وړل خو فرض عین دی په مونږ
خو په اټک پوخ دېوالګی ښه دی که ته څه وایې ؟

چې د نجیب غوندې په خپله قیصه کلک ودریږم
او چې په غاړه مې زندی ښه دی که ته څه وایې ؟

چې په دې دومره بد وختونو کې مې هم نشو خپل
نودانیم کښې وروړ مې پردی ښه دی که ته څه وایې ؟

ای ګیلامنه په قلم خپل قام وطن وستایه
نور بس ګودر لیلا منګی ښه دی که ته څه وایې ؟

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوارو حاجت مندیم یو مې زړه دی بل مې ځان د...
که ګران وزیرستان دی او که ګران افغانستان د...

که لر دی او که بر دی وروڼو یو پښتونستان دی
یو ننګ یوه پښتو یو مو رواج یو مو ایمان دی

خو نن په اشارو د بل خپل سر په کانو ولو
لر بر په کانو ولو او بر لر په کانو ولو

هیڅ فرق مه په کې بولئ پښتون یو د لر او بر دی
که سوات که کابل جان که کندهار که پیشاور دی

چې نوم یې د پښتون وی زما ځان زما ځیګر دی
چې ژبه د پښتو وایي زما سترګې او نظر دی

راځئ پښتنو وروڼو چې یو لاس شو یو لښکر شو
دوښمن ته به شکست ورکړو چې یو ځای لراو بر شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر کومې به په خپل منځ کې جنګېږو او ژوبلېږو
چې چېرته اور بل شوی دی نو مونږه پرې سوځېږو

ویده یوو د غفلت په خوب چې کله به ویښېږو
په خوله مونږه تش هسې بس له یو بل نه ځارېږو

چې کوم محفل ته لاړ شې په یو بل پسې غیبت دی
په خوله دعوې د مینې کړو په زړو کې مو نفرت دی

چې زه پښتون یم ته پښتون یې راشه چې یو ځای شو
ټینګ لاس د وروری راکړه را پخلا شه چې یو ځای شو

چې زه شم در ته ګل ته مې بورا شه چې یو ځای شو
که زه وم مرور ته را جرګه شه چې یو ځای شو

تر څو به په ناحقه تویه وو د یو بل وینه
جوړ شوي سوداګر یوو خرڅه وو د یو بل وینه

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

جهان ورته يو شوی پښتون هر ځای په نمبر مري
لر بر په شمالي په کابل جان په پېښاور مري

د دين په سر بدنام شول په نامه د ترهګر مري
څوک مري په دهماکو څوک په ټوپک څوک په خنجر مري

څوک جوړ ورته کافر کړي څوک طالب شي په سنګر مري
دا ولې يو پښتون د بل د لاسه په ډالر مري

د دين په مدرسو کې مو بچيان سينې پرهر مري
جهان وريورې خاندي پښتانه په سمه غر مري

زما د جوماتــه امـام د پاســه پــه ممبـر مـري
بس پيغلې ملالۍ مو ډلې ډلې په ګودر مري

لاسونه د پښتون صباح بيګاه په وينو سره وي
زما ستا په وينو سره وي ستا زما په وينو سره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځئ چې سره يو شو د جهان قيصې به پرېږدو
بس نور د شخصي ګټې او تاوان قيصې به پرېږدو

يوو وروڼه د پنجاب و فارسي بان قيصې به پرېږدو
چې ګټې لاس ته راوړو نور د زيان قيصې به پرېږدو

چې نوې تاريخ جوړ کړو ته مې وروړ زه به دې وروړ شم
اې ته مې د زړه سر شه زه به ستا د سترګو تور شم

تر څو به د ملنګ پشان په يو بل در ګرځيږي
اخر وايه تر کومې به د مال پشان خرڅيږي

پښتونه لږ خو فکر وکړه ځان ته برباديږي
راويښ شه دوست دوښمن در ته ښکاره شو که پوهيږي

ټوپک يې لاس کې درکړو ما په تا ، تا په ما وژني
تياري راخوره وي زمونږ په منځ کې رښا وژني

(c) Kitabton.com: The Digital Library

بیدار شه ای پښتونه لږ د ځان تاریخ تازه کړه
جذبه دې راژوندۍ کړه د ایمان تاریخ تازه کړه

محمود غزنوي د خوشحال خان تاریخ تازه کړه
لږ بیا د میرزاعلي د میرویس خان تاریخ تازه کړه

د وخت دې ظالمانو ته عمر له ځان نه جوړ کړه
د پلار نیکه پشاني بهادر له ځان نه جوړ کړه

ته فکر وکړه تو له پښتونخوا لمبه لمبه ده
په ځان نه یوو خبر چې مونږه کړي څه خطا ده

هر ځای پښتنه پیغله مهاجره په بیدیا ده
یو خدای رسول منو بل په قران مو عقیده ده

بس ځکه نړېدلې په بارود هره کوڅه ده
زمونږ د پښتنو نه هر ځای ډکه جیل خانه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

بچيان ترهګر بولي دا په کوم کتاب روا ده
مسلِم يمه زما د ملک نامه خو کليمه ده

وزيره ګيلامنه دا د کوم جُرم سزا ده
چې فکر ځان ته نه کړې اسد خېله برباد يږې
تر کومې به د بل په اشارو باندې غوليږو

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتون مري

هم که لر مري او که بر مري خو پښتون مري
که طالب مري که عسکر مري خو پښتون مري

لويه خدايه د دنيا په مخ چې چېرته
په نامه د ترهګر مري خو پښتون مري

که شهيد دی که مردار دی خوار پښتون دی
که مورچل که په سنګر مري خو پښتون مري

چېرته لاړ شو زما ربه حق حيران يوو
که په سمه که په غر مري خو پښتون مري

څوک حلال شول او څوک مري په دهماکو کې
که توپک که په خنجر مري خو پښتون مري

ګيلامن اسدخيل دي ته ډېر حيران يم
که بې ننګه مري که نر مري خو پښتون مري

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ننګ میدان

زه پښتنه یم بې ننګي نه قبلوم لالیه
د ننګ میدان ته ځنګ په ځنګ درسره ځم لالیه

د زرغونې انا لمسۍ یم ستا دعا په کار ده
د وخت ملاله یم زلمي راپاروم لالیه

الله دې نه کړي که شهید شولې په ننګ د وطن
په تار د زلفو به کفن درته ګنډم لالیه

یا که تیږي شوې ګیله منه خال دې ږدم په وینو
بیا به په لپو کې اوبه درته راوړم لالیه

یادونه : دا شعر شهید ګیله من د پښتو ژبې تکړه سندرغاړې مېرمن پاولینې ته د زمزمې او سندرې دپاره پخپله لېږلی و چې د ګیله من تر شهادت وروسته اغلې مېرمن پاولینې سندره کړ او د سندرې په بڼه خپور شو .ما ته دا شعر مېرمن پاولینې راولېږه.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذایقه

یوه داسې ذائقه شته چې هر بنده به یې څکي
بنده هم صرف نه هر یو زنده به یې څکي

د هیچا یې څکلو ته زړه نه کېږي ترخــه ده
لازمــي ده مجبــوري ده خامخــا بــه یــې څکــي

که ننګ که بې ننګي کړې ګیلامنه اسدخیله
په خپل وخت هر یو نر هر یو دلـه بـه یې څکي

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمنه

دا درسره کړې کوم مُلا د جنت ژمَنه ده
دا خو جهاد نه دی اشنا دا خو ورور وژنه ده

دلته یو ګلخان دی د کشمیر جنګ ته تَترو هي
خپله مور یې ناسته په خیمه کښې بې وطنه ده

دا دي ښیخي دروغ چې ریاست د مور مثال لري
اوف بیا پښتنو ته ځنګه خپله مور دوښمنه ده

CS CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر قوت چې وغواړي نو مړيې کړي هم پړيې کړي
توره د پښتون د ترهګر په نوم لمنه ده

ای خلکو قسم دی چې منظور له چا هیڅ نه غواړي
صرف یې د ښه امن خپل اولس لره غوښتنه ده

مونږه را اوچت کړ په دنیا مونږ یې کړو در په در
ای پښتنو دا د شنه او سپین بیرغ مننه ده

ځان په حقه وژني تور ته تور او سپین ته سپین وایي
ځکه زمانه د ګیلامن نه ګیلامنه ده

یادونه: ګیله من د ګل خان لفظ هغو پښتنو یا پښتون ته کاره ولو کوم چې د پاکستان أئین او قانون مني او د خپلواکي او د پښتنو واک اختیار مخالف دي او په موجوده ریاست کې د منصب او قدرت خاوندان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازې

په جونو مو کړې بندې د مکتبونو دروازې
په تاسو دې شي بندې د جنتونو دروازې

زموږ د خویندو میندو ماشومانو په بد حال
ګـواه دي د پنجـاب د زنـدانونو دروازې

وطن کې بد حالي ده بده ورځ ده وطن داره
موږ پورې په مابنام کړو د کورونو دروازې

جنت وطن یره دی خو په قدر یې پو نه یوو
خدای بندې کړې په موږ د رحمتونو دروازې

مـزه د کلـي نشـته ګیلـه منـه اسـد خیله
چې بنـدې کـړې لالـي د دیدنونـه دروازې

CamScanner

(c) Kitabton.com: The Digital Library

اجل

ولاکــه یـې نـــور ومنمـــه دا څوکیـــدار غـــل دی
زمـا فکـــر د خوشـــحال دی د دې فکـــر د مُغـــل دی

ایمان به څنګه تېر کړې ته په زېرو ورته ګورې
دا ستا په کلي کور ستا په عزت یې جوړ غوبل دی

زما فـکر خراب دی که دا وخت دومره بدرنګ دی
چې کړې ګیدړانو پــه زمــرو بانــدې یرغــل دی

ای دا مو د اسلام او د پښتون وطن دوښمن دی
هــم دوی دی نړولــی پېښــور دی کــه کابــل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خر هغه دي خو کته يې بدله ده ملګرو
دا مونږ ته پاتې شوي دا ايپي فقير متل دی

ای راشه دا ټوپک کېږده خپل ورور درباندې وژني
په خدای که دا جهاد وي دا ټول ما او تا ته چل دی

چې کوم مُلا په چا باندې فتوه د جهاد ورکړه
نن هغه ملاجان هم د هغو د لارې مل دی

دا نن چې ما او تا ته وايي غدار يې شرېسندې
منم خوله مې د ورور ده خو اواز پکې د بل دی

پروا مه کوه حق ته به حق وايي ګيلامنه
هيڅوک هم نه دی خلاص چې پوره شوي يې اجل دی

(c) Kitabton.com: The Digital Library

د زندان کیسه

زه به تر نیمې نیمې شپې ځوړند وم
لاس یو خوا سر بل خوا عجیبه ځوړند وم
د مخ له خوا یې د کرنتونو په تارو وهلم
شاته پر ملا یې په چیترو او ډنډو وهلم
خو خدای ګواه دې ما په دې حال کې دا شعر ویلو چې
زه عام وجود یم خاوري کیږمه فاني به شمه
خو که په ننګ د وطن مړ شوم قیمتي به شمه
قامي لښکر ته زه له سر او ماله تېر ورکړی یم
نو په دې نه یم چې په دار یا زنداني به شمه
ما که په ننګ د افغان کلکه توره وتړله
اصلي وارث د خوشال خان او ابدالي به شمه
که مې دستا په شکېدلي وربل ننګ ونه کړ
د وطن پیغلې خپل تاریخ ته تهمتي به شمه
که د بدن وینه مې تویه شوه په حق د مظلوم
نو ګیله منه افتخار د خپل پردي به شمه
په دې کوټه کې یوه د اوسپنې چوکۍ پرته وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې چوکۍ ګرد چاپیره زولنې پرتې وې
پیا یې پر دغه چوکۍ وتړلـه سم یې بند کړم
بېخي مې سا اخیستی نه شوه سم محکم یې بند کړم
دغه چوکۍ له لاندې ورو ورو ګرمېده راپسې
بوی به راتلو د تن جامه به سوځېده راپسې
په دې چوکۍ یې لګول د برق د تار شارټونه
د اور لمبې وې راکول به یې بار بار شارټونه
ځینې سزاوې خو په خوله د یادېدلو نه دي
ځینې لمحې د یادېدو بیانېدو نه دي
دوی هڅه کړه زه یې په مارانو لړمو خوړلم
ژوندی انسان وم په ژوندون یې زه په سپو خوړلم
یو ډېره ورسره راتلو چې خوشخبري درکوم
نن به سهار د اذانه په وخت پانسي درکوم
زه به خوشال شومه چې شکر دی چې ژر مړ شمه
چې بې ننګي رانه ونه شي بهادر مړ شمه
بس هره شپه به یې ویل چې نن تیار اوسه
د پانسۍ وخت دې رانږدې شولو بیدار اوسه

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ته به مینه لـور ماشومه لـور رایاده شوله
خـو د وطـن بـه هـره بـوره مـور رایـاده شوله
ما ویل که مرم شکر په ننګ د مظلومانو مرمه
زه د وطـن پـه کونـډو بـورو یتیمـانو مرمه
چې بـه سـهار پـه ډیکـو بـه یـې روان کړمـه زه
بـس پـه چیتـرو او ډنـډو بـه یـې روان کړمـه زه
سترګې مې بند په زخمي پښو به یې روان کړمه زه
لـه لـږ مـزل نـه پـس عجبـه حادثـه راغلله
هـر خـوا قبرونـه وو د مـړو هـدیره راغلله
زمـا وه مـخ تـه یـې ډېـر د کم عمر ځوانان ووژل
په یو ساعت کې یې څلور پینځه کسان ووژل
تیار یې جوړ و زه لاندې ژور کند ته ګوزار کړم
دې ظالمانو په ژوندوني قبرستان ته ګوز کړم
پاس یې په غاړه په ترلي مخ کسان ولاړ وو
پـه وینـو رنـګ د انسـانانو قصـابان ولاړ وو
ځینو په لاسو کې ګیمتې ځینو بیلچې نیولې
ځینـو زمـا پـه سـر تـوپکې تمـانچې نیولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویـل یـې اوس وایـه زمـوږ کیسـه منې او کنـه
اخـري وارننـک دی دا خپـل سـر دې سـاتې او کنـه
خـو مـا ورغبرګـه کـړه چـې شابسـې ګـوزار کـوئ
ژر ژر مـې ووژنـئ د څـه شـي انتظـار کـوئ
ای کـه ذره ذره توټـه نـیم نـیم شـمه
افغـان پښـتون یمـه قسـمت دی کـه تسـلیم شـمه
بس لنډه دا چې دوی پرې پو شول چې یوه نه مني
ای دغه ځوان په هوش خواص زموږ کیسه نه مني
بس یو څو ساعته شوم بېهوشه زما حال بدل شو
زما په ځان اختیار شو ختم زما خیال بدل شو
داسې ماحول جوړ شو چې شو راسره ورور په قید کې
زما وراره ماشومه لور او زما مور په قید کې
لـه یـو خـوا بـل خـوا د چیتـرو اوازونـه راتلـل
مـا تـه د ورونـو او وریرونـو فریادونـه راتلـل
بس له دې وروسته چې دوی ما باندې هر څه ویلي دي
په دې پو نه یم چې ما بد او که ډېر ښه ویلي دي
پښـتنو ورونـو دا زمـا مختصـر بیـان و

(c) kitabtoon.com: The Digital Library

دا په ما تېر په فوجي قید کې د محشر بیان و
خو خدای ګواه چې زما سره دا قران پوره دی
دغه قسم زما په هره یوه مېدان پوره دی
په دې اخر وخت کې هم ما د خپل پرهر په وینو
د تور زندان پر دېوال دغه بیت لیکلي دي چې
(که وم ژوندی د ازادۍ د اتڼ برخه به وم
که چېرې مړ ومه نو زیری مې تر ګوره راوړئ)
ځکه چې ما و خپل ولس ته په بار بار ویلي
دا مې په شعر او په ټپه کې دي په جار ویلي
چې یا وطن او یا کفن دا مې شعار دی
پښتانه راوپښومه دا مې کار دی
ما قبول دي د حق لار کې په سر ستر کو
ګیله منه که زندان دی او که دار دی

یادونه: په لینډۍ کې پورتني دوه بېتونه د ښاغلي باز خان الیار دي چې د شهید ارمان لوني د قبر پر ډبره هم لیکل شوي دي موږ د کتاب پر شا پر پښتنې هم د همدې خاص ارزښت له مخې لیکلي دي او شهید ګیله من هم دلته په خپل شعر کې رانغاړلي دي

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغاوت

ما ته چې چا کنځلې وکړلې په تنکه د قام
هغو ته هم ما د یووالي خواست نصیحت کړی دی

دا چې پښتون په کې غلام دی دا بېخي نه منم
ددې نظام نه مې په کلکه بغاوت کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتانه

پښـــتانه د پاکـــستان نـــه دي صـــاحبه
پښـــتانه خـــو پنجاييـــان نـــه دي صـــاحبه

پښـــتانه د لـــر او بـــر د لـــوی ټبـــر دي
پښـــتانه يـــو شـــو کـســـان نـــه دي صـــاحبه

يادونه : په دې شعر کې يې اشاره هغو رياستي پښتنو ته ده چې د پاکستان له زېږېدو راهيسې د پښتنو په نوم د سياسي ګوندونو مشران يا پلويان دي او د رياست په هر ظلم يې خوله ګنډلې او خاموش دي .نو دلته ګیله من رياست ته وايي دغه کسان چې تاسو سره د پښتنو په نوم ناست دي ، يوازې دوی پښتانه ، نه دي بلکې پښتون قام يو ډېر لوی ټبر دی او له آمو تر اباسينه ددې خطې او جغرافيې خاوندان دي.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه

مجبور به یم خو چې زما په مینه شک ونه کړې
لکه مورکۍ لکه پلار جان درسره مینه لرم

خلک به هر څه هر څه وايي ته ګوا يې په ما
افغانستانه ګیله مان درسره مینه لرم

یادونه : دلته بیا هم ګیله من د خپلې لهجې له مخې او د قافیې د سمون په پار ګیله من . ګیله مان لیکلی او موږ هم پرته له لاسوهنې ولیکه .بله لنډه یادونه دا ده چې د پاکستان ریاست او ادارو تل هڅه کړې او کوي يې چې پښتنه یو په بل بې باوره او بد نام کړي د غورځنګ په ډېرو مشرانو او غړو پسې يې همداسې تبلیغ کاوه او کوي یې چې دوی د نورو هېوادونو کسان او جاسوسان دي یعنې پاکستانیانو ته یې ویل چې دوی د هند او افغانستان جاسوسان دي او افغانانو ته يې ذهنیت ورکاوه چې ګوندې دوی پخپله د پاکستان جاسوسان دي نو دې باریکۍ ته په کتو شهید ګیله من وايي چې خلک یا دښمنان به هر څه هر څه وايي خو افغانستان زه په تا مین یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اور پسې شه

ستا په نه زړه شکرانه په اور پسې شه
تر مطلبه یارانه په اور پسې شه

لوپټه چې د ناموس یې په سر نه وي
مړه داسې پښتانه په اور پسې شه

چې د کیږي همېشه زموږ په وینو
ملکه ستا دا خزانه په اور پسې شه

چې د حق په ځای کې پاتې چوپه خوله شي
دا ملک دا مولانه په اور پسې شه

میخواران چې ترینه وچې شونډې ګرځي
ساقي ستا دا میخانه په اور پسې شه

ګیله منه چې نګار در څخه ولاړو
مړه رنګه شوه دنیه په اور پسې شه

یادونه: په پورته شعر کې شهید ګیله من د خپلې کلیوالې لهجې له مخې د شعر په قافیه کې مولانا د مولانه، دنیا د دنیه په بڼه ویلی او ما هم کټ مټ د هغه د زمزمې نه همداسې ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنازې

مور به ترخو پورې د يو بل جنازې اخلو
په پښتونخوا وطن کې هره ورځ لاسونه وينو

کله د پلار کله د مور مات اندامونه وينو
له هرې خوا د يتيمانو فريادونه راځي

د اخ ورور جانه اخ پلار جانه اوازونه راځي
د هر يو کلي نه د مړو اعلانونه راځي

د لر او بر افغان وطن نه ماتمونه راځي
د لوبو وخت کې وي معذور به شي بچيان د وطن

ورته بمونه خښوي ځوکيداران د وطن
زمونږ په غوښو يې ماړه کړل سپي ليوان د وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو بیا مو هم په یوه خوله نشول مشران د وطن
زموږ خو پیغلې د بابا په کورو کونډې شي

په یو بل کلي کې خیرات غواړي برینډې شي
له حیا ډکې پښتنې پیغلې سر تورې شوې

ځکه اکثره خویندې میندې مو مړې بورې، شي
په یو بل کلي کې په خیرات غوښتو مجبورې شي

د سر سړي مو شول حلال د جاسوسانو په نوم
مشران مو مړه شول د غدارو کافرانو په نوم

څوک ترهګر څوک یې کړه مړه د بدمعاشانو په نوم
ځینې ځوانان مو په پنجرو کې د زندان بندي دي

د پښتونخوا مې په زرګونو انسانان بندي دي
څوک یې ژوندي په امریکا په برطانیا خرڅ کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

تپوس یې وکړئ جرنیلانو برملا خرڅ کړل
کلي کورونه راته رنګ کړل پنجاب

ټول تاریخي ښوونځي ځایونه راته رنګ کړل پنجاب
ښوونځي مدرسې او مکتبونه راته رنګ کړل پنجاب

ګرده نړۍ کې یې په نوم د ترهګر بدنام کړو
استاد شاګرد ملا عامي او هم یې دم سره بدنام کړو

زموږ په وینو یې خپل ځان ته بلډنګونه جوړ کړل
ځان ته کوز په تور لاهور کې محلونه جوړ کړل

درې اویا کاله شول پښتون نه یې غلام جوړ کړی
د منډیي د خرڅ لیلام له پښتون جوړ کړی

موږه یې تش د ملک په نوم په لا الا غلط یوو
ډېر پښتانه یې په دا شنه سپینه جنډه غلط یوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک يې په پاک سر زمين او دا دا غلط يوو
په دا دوه مخي رياست موږ په بيا بيا غلط يوو

نو نور خو بس دی پښتنو ځانونه وپېژنئ
ای مېړنو ای ننګيالو ځانونه وپېژنئ

ای د غفلت په خوب ويدو ځانونه وپېژنئ
د تور دښمن د دې دومخې پالېسۍ په خلاف

راځئ چې يو شو د بنده د بنده ګۍ په خلاف
ددې دښمن ددې دښمنې معاملې په خلاف

موږ او تاسو باندې کلک سپين بغاوت فرض دی
په دې محکوم وطن کې غږ د افغانيت فرض دی

په لر او بر وطن کې ټينګ ملي وحدت فرض دی
دا کار په موږ لکه پينځه وخت عبادت فرض دی

ددې غلام ابنې غلام نه ازادي اخلو
راځئ د سر په قرباني نن خپلواکي اخلو

د غلامۍ له ژونده سل ځلې بهتر دی مرګی
د ازادۍ د ننګ په کار کې معتبر دی مرګی

راځئ دې کار ته اول خپله ګیله من تیار دی
سبا ته هم نه ایساریږم دا دی نن تیار یم

تاسو هم دې کار ته د ننګ په پړي ملا وتړئ
صرف په خوله نه نغدې نغدې ارادې وتړئ

ځئ په لاسو کې د خپلواک وطن جنډې اخلو
موږ به ترڅو پورې د یو بل جنازې اخلو

موږ به ترڅو پورې د یو بل جنازې اخلو
موږ به ترڅو پورې د یو بل جنازې اخلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی افغانستان

وجود مې لوی افغانستان دی د مثال په توګه
زړه په کې پروت ملت افغان دی د مثال په توګه

دې ظالمانو په اغزنو کرښو نیم کړی دی
بیا یې په ډېر وحشت په لر او بر تقسیم کړی دی

چې د دې نیم زړه یو کېدو ته څه اقدام ونه کړو
دا خو معلومه ده چې ژوند به په ارام ونه کړو

چې وې موجود دا د تورخم تور زنځیرونه ترڅو
چې مو ترمنځ وې د ډیورنډ شینکي تارونه ترڅو

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بیا ببخي په لر او بر امن د خدای قسم دی
په کابل جان په پېښور امن د خدای قسم دی

تاسو حساب وکړئ چې څومره ځوریدلي یوو موږ
د دې بېلتون دلاسه څومره دردېدلي یوو موږ

موږ سکه ورونه یوو دښمن سره ویشلي یوو موږ
بیا یې په سل قسمه نومونو غولولي یوو موږ

له پښتونخوا چې څوک جنت حورو غلمان ته لیږي
بیا یې ټوپک په لاس لوی کور افغانستان ته لیږي

موږ که سوځېږو که ژوبلیږو خو د دوی د لاسه
په لر او بر کې وژل کیږو خو د دوی دلاسه

دا چې له هر ګوټکه ولېږو خو د دوی دلاسه
دا چې په وینو کې لوغړېږو خو د دوی دلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ کې پېلتون دی وروړ د وروړ له حاله نه خبرېږي
پلار یې د زوی مور یې د لور له حاله نه خبرېږي

نور نه تارونه منم نه یې دا پاټک منمه
نه د چا توره زور او نه د چا ټوپک منمه

نه یې معاهده د ډیورنډ نه یې ګندمک منمه
نه یې زنځیر په تورخم نه یې په سپین بولدک منمه

فقط یو لوی کور له کابله تر اټک منمه
دا خو په زور چا شوکولی له خپل ځان یمه زه

کنه که دلته یم که هلته یو افغان یمه زه
وزیرستان سوات پکتیکا کې مې اورونه بل دي

په لر او بر پښتونخوا کې مې اورونه بل دي
د دې اورونو مړ کېدو ته یو کېدل په کار دي

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې اغزنو کرښو نور له منځه ورل په کار دي
پښتنو څو مو چې دا وران وطن ګټلی نه وي

چې مو ترڅو دښمن ته زور د مټ ښودلی نه وي
څو مو چې دا د وطن زوړ پرهر ګنډلی نه وي

چې مو ترڅو په اټک بند دېوال وهلی نه وي
ای ګیله منه تر هغې په موږ سیالي قسم دی
په افغانانو سوله امن خوشالي قسم ده

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسونه

دا چې لاشونه یې کش کیږي په رودونو باندې
ای نړۍ والو دا مظلومه انسانان نه وینې

ای ملایانو په برما په فلسطین ژاړې خو
دا په چمن کې سره په وینو مسلمان نه وینې

ای پښتنو سیاست والو ولې غلي ناست یې
دا ناروا وې د خدای داد یې پاکستان نه وینې

یو سړی

هم د لر دی هم د بر دی یو سړی
ما ته ډېر زیات معتبر دی یو سړی

د افغان ملت په تنګ باندې ولاړ دی
د منظور پشتون عسکر دی یو سړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر

په خپله خاوره د پردیو زور او شر نه منم
له خدایه پرته هیڅ د سر دپاسه سر نه منم

چې پښتونخوا په کې برباده وي پنجاب اباد وي
داسې دوه مخې پاکستان په عمر بر نه منم

ویزه

په خپل وطن کې دې ویزه پاسپورټ بېخي نه منم
تـه تـذکره نـه منـې زه دې شـناختي نـه منم

ته چې زموږ ملي رهبر منظور پشتین نه منې
زه دې قاید اعظم علامه اقبال یو چودري نه منم

CS CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

چمن

خان ملک ملا خاموش دي دا کوم ننګ دی دا کوم دین دی
د چمن څخه جوړ شوی هم برما هم فلسطین دی

د کشمیر په ننګ دې ډېرې چغې وکړلې پښتونه
نن دې وار دی ستا سکه ورور په وینو کې رنګین دی

یادونه دا څلوریزه یې د چمن غیرتي ولس د هغه اعتراض په هکله ویلې ده، چې د چمن ولس له اتو میاشتو راهیسې پرلت وهلی او د پاکستان د حکومت هغه پرېکړه نه مني چې وايي په چمن دې افغانستان ته تګ راتګ په ویزه او پاسپورټ شي .دا اعتراض میاشتو میاشتو ته اوږد شو او په دې دوران کې د پښتنو ټول سیاسي قومي او مذهبي ګوندونه چپ پاتې شول او د حکومت له خوا د پرلت د ختمول په خاطر څو څو وارې په اعتراض کوونکو ظلم زور وشو او ډېر کسان په کې شهیدان هم شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوره

راشه ویده دې کړم په سپین سپین مړوندونه یاره
ډېر به دې کړي وي په سره رمل خوبونه یاره

ډېرې شپې ورځې دې کړې تېرې واخ ای
چې درته جوړ کړمه د زلفو بالښتونه یاره

شوندې دې وچې دي پاسته لاس دې تغمې تغمې دي
زما نازکه یاره و زما نیازبینه یاره

په تسلي مې ښکلوه په دا نازک انتکي
چې رنګ مې نه کړې د لندۍ زنې خالونه یاره

دومره دوه درې کاله دې خنکه تېرول په سفر
په ما خو سور اور وي له تا بېغیر وختونه یاره

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته راته غلی شه لالیه زړه مې ډک دی درته
چې درته ووایم د سوي زړه حالونه یاره

وګیله منه سر مې کېږده د زلفو په بالښت
زه به ځار ځار کړم ته وایه راته شعرونه یاره

يادونه: ددغه شعر په کره والي کې اغلې مېرمن نوشابې اشنا او ښاغلي عاشق الله فریاد مرسته کړې ده
رسل په عربي کې شکو ته وایي او ددې شعر له داستانه د ګیله من د مسافرۍ ستړې او په سرو شکو کې د مزدورۍ سخت ژوند ښه اټکلولای ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوره

روخه چې ویود دې کم پهٔ سپین سپین مرمند ینه یوره
ډیر وو دې کړي وي پهٔ سرهٔ رامل خوبینه یوره

ډیرې شپې وریځې وو دې تیرې وي شوکیرې وخاځ
چې دیرتا جور کمه دې زلفې بولشتینه یوره

شونډې دې وچې دي پوستهٔ لوس دې دوغمې دوغمې دي
دې مو نوزکه یوره وه دې مو نیازبینه یوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تسـالي مـې کوشـالاوه پـهٔ دا نـوزک اننګـې
چې ړانګ مې نهٔ کښې دې لنډې زنیې خولینه یوره

دامـره دوه درې کولـه دې څرګـې تیـراول پـه سَفـر
پهٔ مـو خـو سیر یـور وي دې تـو بغیـر واختینـه یوره

تـهٔ روتـا غـلائ شـه لالیـه زړهٔ مـې ډاک دائ دیرتـا
چـې دیرتـا اویـائم دې سـوي زړهٔ وولینـه یـوره

وه ګیلامنـه سـر مـې کشـیده دې زلفـان پـهٔ بـولشت
زهٔ وو څـار څـار کـهٔ او تـهٔ ویایـه ارتـا شـعرینه یـوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعر

د غلامۍ له ژونده سل ځلې بهتر دی مرګی
د ازادۍ د ننګ په لار کې معتبر دی مرګی

راځئ دې کار ته اول خپله ګیله من تیار دی
سبا ته هم نه ایساریږم دا دی نن تیار یم

تاسې هم دې کار ته د ننګ په پړي ملا وتړئ
صرف په خوله نه نغدي نغدي ارادې وتړئ

ځئ په لاسو کې د خپلواک وطن جنډې اخلو
موږ به ترخو پورې د یو بل جنازې اخلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغاوت

ما ته چې چا کنځلې وکړلې په ننګه د قام
هغو ته هم ما د يووالي خواست نصيحت کړی دی

دا چې پښتون په کې غلام دی دا بېخي نه منم
ددې نظام نه مې په کلکه بغاوت کړی دی

پښتانه

پښتانه د پاکستان نه دي صاحبه
پښتانه خو پنجابيان نه دي صاحبه

پښتانه د لر او بر د لوی ټبر دي
پښتانه يو څو کسان نه دي صاحبه

يادونه په دې شعر کې يې اشاره هغو رياستي پښتنو ته ده چې د پاکستان له زېږېدو راهيسې د پښتنو په نوم د سياسي ګوندونو مشران يا پلويان دي او د رياست په هر ظلم يې خوله ګنډلې او خاموش دي نو دلته ګيله من رياست ته وايي دغه کسان چې تاسو سره د پښتنو په نوم ناست دي ، يوازې دوی پښتانه ، نه دي بلکې پښتون قام يو د پر لوی ټبر دی او له امو تر اباسينه ددې خطې او جغرافيې خاوندان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه

مجبور به یم خو چې زما په مینه شک ونه کړې
لکه مورکۍ لکه پلار جان درسره مینه لر

خلک به هر څه هر څه وایي ته ګوا یې په ما
افغانستانه ګیله مان درسره مینه لرم

یادونه دلته بیا هم ګیله من د خپلې لهجې له مخې او د ټ فیې ...سمون په پار ګیله من. ګیله مان لیکلی او مونږ هم پرته له لاسوهنې ولیکه بله لنډه یادونه دا ده چې د پاکستان ریاست او ادارو تل هڅه کړې او کوي یې چې پښتانه یو په بل بې باوره او بد نام کړي د غورځنګ په ډېرو مشرانو او غړو پسې یې همداسې تبلیغ کاوه او کوي یې چې دوی د نورو هېوادونو کسان او جاسوسان دي یعنې پاکستانیانو ته یې ویل چې دوی د هند او افغانستان جاسوسان دي او افغانانو ته یې ذهنیت ورکاوه چې ګوندې دوی پخپله د پاکستان جاسوسان دي نو دې باریکۍ ته په کتو شهید ګیله من وایي چې خلک یا دښمنان به هر څه هر څه وایي خو افغانستان زه په تا مین یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اور پسې شه

ستا په نه زړه شکرانه په اور پسې شه
تر مطلبه یارانه په اور پسې شه

لوېټه چې د ناموس یې په سر نه وي
ګوره داسې پښتانه په اور پسې شه

چې د کیږي همېشه زمونږ په وینو
ملکه ستا دا خزانه په اور پسې شه

چې د حق په ځای کې پاتې چوپه خوله شي
دا ملک دا مولانه په اور پسې شه

میخواران چې ترینه وچې شونډې ګرځي
ساقي ستا دا میخانه په اور پسې شه

ګیله منه چې نګار در ښخه ولاړو
ګوره رنګه شوه دنیه په اور پسې شه

یادونه په پورته شعر کې شهید ګیله من د خپلې کلیوالې لهجې له مخې د شعر په قافیه کې مولانا د مولانه ، دنیا د دنیه په بڼه ویلې او موږ هم کټ مټ د هغه د زمزمې نه همداسې ولیکه.

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

قام سره

په ژوند هم د خپل قام یم هم به مرم د قام سره
تر هر سنګر تر هر ډګر به ځم د قام سره

چا ته به سر ټیټ نه کړم نه خرڅ او نه به دار شمه
وعده مې ده په قران لاسونه ږدم د قام سره

او نه مې په زندان او دار هیڅوک تم کوی نه شي
بېخي بې اندازې مینه لرم د قام سره

په هره خوشالۍ د قام د زړه نه خوشالېږم
بس خدای ګوا شریک یم په هر غم د قام سره

وزیره ګیله منه د افغان په نوم دې مړ شم
د مرګ پس چې یادېږم چم په چم د قام سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم

قسم په خدای تا لکه ځان لکه ایمان ګرانه وم
قسم په خدای تا لکه لوی افغانستان منمه

او چې زما وطن ته بد امني راوړي جنګونه راوړي
نه سعودي منمه نه داسې پاکستان منمه

ګل خان

چې د مار نه زهر اوباسي ماهي شي
د پښتون نه چې ننګ اوباسې ګل خان شي

څوک چې سر لکه منظور په وطن شيندي
نو هغه سړی د ټول ولس جانان شي

جانان

د جانان مثال د درې رنګه بیرغ دی
توري سترګې شينکی خال سره يې لبان دي

له دې سرې خولۍ دې واره صدقه شه
هغه ټول چې غلامان د پاکستان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټپیزه

په وطن هر سړی درد یږي
سړی خو یو ځلې مړ کیږي
خو په خپل قام دې قربانیږي
ښځه په هر سړي کوندیږي
سړی هغه دی چې پرې خاوره کونډه شینه

ملت مې لر او بر افغان دی
په قام وطن مې ځان قربان دی
خیر که په برخه مې زندان دی
سپین مخ دې لوی افغانستان دی
دا تورې زلفې دی بیرغ باد رپوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ارمانه خدای دې جوړ کړه
رنځور جانانه خدای دې جوړ کړه
مرم بې له تا نه خدای دې جوړ کړه
افغانستانه خدای دې جوړ کړه
چې هر پښتون درته پرانیستې تږی دینه

پـه یار مې سختې نه لوریږي
خو په خپل قام مې زړه بدیږي
که لالی مري که بندي کیږي
که تور وریل مې میراتیږي
پـه وطن جنګ دی جانان نه ایسارومه

قام کې بې ننګه خلک کم شه
زموږ د دښمن په کور ماتم شه
د پښتنو دښمنه سم شه
په تا مې بیا خولګی قسم شه
پـه وطن ننګ و تا پـه کور کول خوبونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګلو ښار یې بختوره
خدای خو دې مه کړه د نظره
زما زړګی زما ځیګره
ځکه ښا بسته یې پېښوره
چې له کابله مرور درته راځینه

په جار نعرې د لر او بر کړه
یو کابل جان بل پېښور کړه
ځان انقلاب ته برابر کړه
ته د منظور خولۍ په سر کړه
زما به ملي بیرغ په سر وي در به شمه

د ګیله من وزیر جانانه
زخمي زخمي وزیرستانه
نور شي ازاد له دې بلا نه
راجوړ شي لوی افغانستانه
چې روژه مات مو د کابل په اذان شینه

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیر اوس که بد شي او که ښه شي
د قام په ننګ دې هر څه وشي
څوک دې قیدیان شي څوک دې مړه شي
رهبره وار دې خطا نه شي
ترشا دې پیغلې پښتنې ولاړې دینه

که کلک پښتون شوې کلک افغان شوې
د پښتنو سره روان شوې
نو زما ځان زما جانان شوې
که د وطن په نوم قربان شوې
په تار د زلفو به کفن درته ګنډمه

هغه خپلواک ژوند مو ګنډ پر شو
په وطن بیا مغل چاپیر شو
د پلار نیکه تاریخ مو هیر شو
وار د نجیب د پکړې تیر شو
نور پکتیاوال دې پکړې نه په سره وینه

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـــا جانانـــه خفـــه نـــه شـــي
زمـوږ ګلســتانه خفـــه نـــه شـي
لـــه ځانـــه ګرانـــه خفـــه نـــه شـي
وزیرســــتانه خفــــه نــــه شــي
د میــرزا علـــي بابـــا بچیـــان بـــه دې ګټینـــه

لــــه ســـتنې ووتلـــې تـــاره
پـــه مـــلا مـــات شـــوی یـــې چنـــاره
څـــومره مـــې وکـــړې انتظـــاره
تـــه چـــې راځـــې لـــه کنـــدهاره
زه بـــه چمـــن تـــه لـــه چمبیـــل ســـره درځمـــه

دا مـــې یقیـــن دا مـــې ایمـــان دی
هـــدف مـــې لـــوی افغانســـتان دی
زمـــا تـــرې ســـر او مـــال قربـــان دی
یـــار لـــه کابلـــه راروان دی
مـــا پـــه تـــورخم ورتـــه نیـــولي دي ګلونـــه

CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو جنګ دې پاتې نه شي
قومي غورځنګ دې پاتې نه شي
ژوند مو بدرنګ پاتې نه شي
په وطن تنګ دې پاتې نه شي
زغملی نه شم د همځولو پېغورونه

زما او ستا تر منځه خند دی
ځکه د دواړو ژوندون شند دی
زړه مې د تورو وینو ډنډ دی
پوزه دې کرښه د ډیورنډ ده
سره اننکي دې لر او بر افغانان دینه

ستا په بېلتون دومره غمجن یمه چې حد نه لري
په غمجن زړه داسې خوږمن یمه چې حد نه لري

په کړکېچونو او امزنو کړېـــــو بېله پاره
دومره دې تږی د دیدن یمه چې حد نه لـري

کله ترهګر شــــــه او کله مهاجر او غدار
دومـره ذلیل په خپل وطن یمه چې حد نه لـري

د پښـــــتنو په قتل عام خاموش ملک او ملا
له تاســــې دومره ګیله من یمه چې حد نه لري

که یې په مینه کې په دار هم شـــــم پروا نه لري
په پښــــتون قام داسې مئین یمه چې حد نه لري

د باچا خان امـــر ماتیــــرې کنه خدای ګواه دی
نور دومره تنګ له دې دښمن یمه چې حد نه لري

د پښـــــتنو حیا لوټېږي او زه چپ خوله ناست یم
زه ګیله من دومـــره ډارن یمه چې حد نه لـري

CamScanner

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library